Australian Government

# په څو کلتوريزه استرالیا کې د هرچا لپاره د انصاف وده

## د راپور لنډیز

د څو کلتوریز چوکاټ بیاکتنه د نسلونو د اصلاحاتو اجنډا ده چې د حکومت په کچه د ټولنې تګلارې ته اړتیا لري او استرالیا ته به داسې ځای ورکوي ترڅو د یو ملت په توګه د ډیرو کلتورونو، عقیدو اود ژوند له بیلا بېلو تجربو څخه خپل جوړ شوی بشپړ ظرفیت احساس کړي.

استرالیا حکومت ته د دې راپور په سپارلو کې، بیاکتنه په ټوله استرالیا کې د 216 عامه مشورو له لارې د ترلاسه شویو معلوماتو پراساس وه. هیئت 796 عامه سپارښتنې هم په پام کې نیولې (15٪ له انګلیسي څخه پرته په نورو ژبو کې)، د ماشومانو او ځوانانو لپاره یې د هنر سیالۍ ترسره کړې، تر څو دا ډاډ ترلاسه کړي چې ټول نسلونه په کې شامل وي.

ټولنو په یوه قوي غږ سره هیئت ته د خبرو په وخت کې خپلې غوښتنې په ډاګه کړې ترڅو دوی د پریکړې کولو د پروسې برخه وي، د حکومت داړوندو کچو سره برابر ګډ ډیزاین او ګډ تولید او مسؤلیت او حساب ورکونې شریکې کړي.

دا مسئلې یوازې د ټولنې، سکتورونو، بنسټونو او سازمانونو لخوا نشي حل کیدی او نه هم د یوې یوازینۍ عمر لرونکې ډلې لخوا. په استرالیا کې هرڅوک د ټول شموله ټولنې مسؤلیت لري؛ زموږ په کاري ځایونو کې، ټولنیزو معاملاتو، آنلاین یا په شخصی توګه، هرڅوک دبشري حقونو په اساس باید ټول شموله، عادلانه، په درناوي او برابرۍ سره چلند وکړي.

په ټول حکومت کې د ګډ مالکیت او ژمنې د یقیني کولو لپاره، راپور د استرالیا له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د 29 سپارښتنو پلي کولو ته لومړیتوب ورکړي.

د دې سپارښتنو په پام کې نیولو سره، موږ د څوکلتوریز چوکاټ لپاره د یوې عمومي تګلارې وړاندیز کوو. د دې عمومي تګلارې، له سمو بنسټیزو ترتیباتو سره، موخه دا ده چې د ټولو لپاره د یوې بریالۍ،عادلانه څو کلتوریزې استرالیا د دوام لپاره اړین دواموالۍ چمتو کړي. د کافي معلوماتو، څیړنې او راپور ورکولو له مخې، عمومي تګلاره لاندې ټکي په ګوته کوي:

### *د پیوستون له لارې د بنسټونو اېښونه*

- د ټولنیز پیوستون، کلتوري هویت، د فرصت د برابرۍ پر بنسټ څوکلتوري ټولنې لپاره د دواړو سیاسي ډلو ملي ژمنتیا
- قوي مشرتابه او حساب ورکول، د څو کلتوریزې استرالیا د کمیسیون له سپارښتنې سره چې د چوکاټ د پلي کولو رهبري کوي
- ستراتیژیک پلان جوړونه او همغږي د یوې ځانګړې ادارې لخوا د څوکلتوریزو چارو، مهاجرت او تابعیت د څانګې په چوکاټ کې.
- د ټول هیواد او ټولنې په کچه لاس ورکړه، د څو کلتوریزو چارو د وزیرانو په سطحه شورى او د څوکلتوریزې ټولنې مشورتي شورى

## د هویت او تړاو په اساس د داسې استرالیا چمتو کول چې ټولو ته ښه راغلاست ووایي

- ملي پلان چې څو کلتوریزم ولمانځي د همغږۍ د اونۍ په ګډون او په رسمي توګه د نژادي تبعیض د له منځه وړلو لپاره د ملګرو ملتونو نړیواله ورځ ولمانځي.
- د ټولنیزواقتصادي پایلو لپاره د ملي ژبو د دوامداري پالیسۍ پلي کول
- د تابعیت تازه شوی بهیر چې یو عصري، څوکلتوریزه ملت منعکس کړي
- د رسنیو یو خپلواک او ګوناګون سکتور
- په ټولنیزو سازمانونو او کلتوري برنامو کې پانګونه وکړئ ترڅو د هنر او سپورت له لارې ټولنیز بدلون رامنځته کړي
- د هیواد د اصلي خلکو د تاریخ په اړه د استرالیا په کچه د پوهاوي د ژورولو لپاره نوښتونه رامنځته کول ، لکه تاریخ چې د تابعیت د پروسې له لارې ترسره کیږي، د دایمي استوګنې اوزده کړې لپاره دمدني ګډون بېلابېلې لارې

## د ګډ شمول له لارې د خدمتونو ښه کول

- د روغتیا، معلولیت، تعلیم، د عمر پاملرنې او کور په ګډون له کلتوري پلوه ځواب ورکوونکي خدمتونه شاملول
- د استرالیا د عامه خدمتونو په اوږدو کې د کلتوري وړتیا لوړول، د حساب ورکوونکي مشرتابه له لارې د APSC لخوا پرمخ وړل
- یو عصري شوی څو کلتوریزه مرستندویه پروګرام چې په پایښت او باور ولاړوي
- د کلتوري او ډیجیټل فاصلو د نښلولو لپاره د ستراتیژۍ ډیزاین او پلي کول
- د ځوانانو او سیمه ایزو ټولنو ځانګړو اړتیاوو ته پاملرنه
- څوکلتوریزې پالیسۍ او خدمتونو کې د متقابل او جنډر د برابرۍ د لید پلي کول.